زرغونه ژواک عطا

# د فرانکفورت په ښار کی دافغانانو اعتراضیه مظاهره

د شنبې په ورځ د جون په اتمه د فرانکفورت په ښار کی د افغانو ښځو په وړاندې د تاوو تریخ والی د منع د قانون د تصویب په پلوی چې څو ورځې وړاندې د افغانستان د ملی شورا د ځینو کړوپو له خوا د نه منلو سره مخامخ شوی وو یوه درنه اعتراضیه مظاهره په اروپایی هیوادو کی د افغانو ښځو د شورا او دماربورګ د ښار د مرستندویی افغانی ټولنی او نورو هیوادوالو په ګډون تر سره شوه.

د دی مظاهری پیل په اروپایی هیوادو کی د افغانو ښځو د شورا د اجراییه کمیتی غړی او د همدی شورا د مرستیالی اغلی زرغونی عطا ژواک په خبرو پیل شوه ورپسی د ماربورګ د شار د افغانی مرستندویی ټولنی مشری او د اروپایی هیوادو کی د افغانو ښځو د ښورا د اجراییه کمیتی غړی اغلی شیما غفوری خپله وینا واورول دریمه ګډون واله اغلی نادیه قانع وو، ورپسی د فرانکفورت دافغانو ښځو د ښورا مشره اغلی نسرین منصور په خپل وار سره برخه واخیسته، بیا د ماربورګ د ښار د افغانی ټولنی په استازیتوب اغلی نظیفه یعقوب یو شعر چې د افغانو ښځو د ژوند ښه هنداره یی په شعر کی ښکاره کړی وه واوروی بیا د افغانو ځوانانو په استازی توب یوی ځوانی په المانی ژبه د افغانو ښځو د ژوند د حال بیان وکړ چې د ټولو له خوا بدرګه شو او وروسته د مظاهری قطعنامه ولوستل شوه .

ورپسی ګډون والو د فرانکفورت په شار کی د تګ په حال کی د شعارو په ورکولو او د انځورونو سره یو آرام او سوله ایزه مارش تر سره کړ او د ځوانانو په مرستی د ګډون والو نه امضاوی هم را ټولی شوی او د مازیګر پر شپږ بجو مظاهره ختم شوه .

موږ یوار بیا د ټولو دوستانو نه چې زموږ سره یی پدی څو ورځو کی هر ډول مرستی کړی دی په تیره د آسمایی د سایت د مسوول ښاغلی حمیدالله عبیدی نه چې یوه اونی یی د ټولو پوهو او د ښځو د فعالینو لپاره پرانیستی د بحث پانه فعاله ساتلی وو چې ټول پر یو ګډ محور باندی کارونه سرته ورسوی، د محترم نور منګل او نور محمد غفوری نه چې د مطالبو په ترجمه کی یی فعاله ونډه

درلوده او بیاهم د آسمایی د سایت نه چی د ټولو شوراګانو، نهادونو، کمیټو، مستقلو اشخاصو حمایه او پیوستون یی خپل د سایت له لاری خپرول او زموږ سره یی په ډیر صداقت مرستی سرته رسولی دی ځای لری چی د زړه له کومی کورودانی او مننه څرګنده کړو .

موږ به په تفصیل ټولی مقالی او پریکړه لیک ستاسو حضور سره شریک کړو په راتلونکی کی.

www.esalat.org